لیکوال:کاندید اکاډیمیسن سیستاني ۲۰۲۳/۳/۲۰
ژباړن: سمیع الله سیال او فاطمه سیال

# د شمال د ناقیلنو په اړه د پدرام اخطار ته ځواب!

د شمال ځینې ناقلین، هغه پښتانه، هزاره ګان او بلوچان دي، چې د بغاوتونو له امله، د هندوکش جنوب څخه د هندوکش شمال ته د امیر عبدالرحمن خان لخوا تبعید او په دولتي ځمکو کې میشت کړل شو. د افغانستان له استقلال وروسته، ۱۹۲۰ م کال کې تقریباً د هند ۲۰ زره مسلمانان له هند څخه افغانستان ته هجرت وکړ، د افغانستان دولت هغوی ته ښه راغلاست وواېه، په کابل، پروان، بغلان، بدخشان او قطغن کې هستوګنځایونه او د کښت لپاره ځمکه او غنم ورکړل. هندي مهاجرین ورځ په ورځ زیاتیدل، دولت د اعلامیې په خپرولو د مهاجرینو د نه منلو له امله بخښنه وغوښتله. خو ډیره موده تیره شوې نه وه چې هندي مهاجرینو افغانستان ته له راتګ څخه پښیمانه او بیرته هند ته ستانه شول.

د غبار په قول، په لومړني کاروان کې ۲۵ زره هندي نارینه، ښځې، ماشومان او ډیر عمر لرونکي افغانستان ته داخل شول. دولت د مهاجرینو نظامنامه په اتو فقرو کې ترتیب او خپره کړه، چې د هغې مطابق په افغانستان کې د هر مجرد مهاجر لپاره شپږ جریبه ځمکه او د متاهلینو لپاره اته جریبه زراعتي ځمکه د زراعتي تخم(في جریب شپږ منه غنم) سره او پنځه روپۍ نغدي، او د فصل تر رسیدو پورې د هر بالغ فرد لپاره د میاشتې پنځه منه خوراکي اوړه او هر نابالغ شخص ته درې منه خوراکي اوړه ورکول کیږي. ځمکو څخه تر دریو کلونو پورې مالیه نه اخیستل کیږي. مسلکي اشخاص دولت کې استخدامیږي. خو کوم مهاجرین چې د افغانستان د اب هوا او کار توان نه درلود، له هجرت څخه پښیمانه شول، او تقریباً ټول بیرته هند ته ستانه شول.(غبار، ج ۱، ص ۸۰۱)

خو اروابناد پوپلزایي د هند د مهاجرینو تعداد ۱۲ زره لیکي، چې ۱۲۹۹ هـ ش کال د جوزا په لومړی نیټه کابل ته داخل شول، او یو میاشت د کابل د خلکو میلمانه ول. موقتي هستوګنځای یې جبل السراج وو. د کوهستان او پنجشیر حاکم محمد امان خان د مهاجرینو امورو ته د رسیدګۍ مسول وټاکل شو، ترڅو هغه مهاجرین چې د ځمکې غوښتونکي دي، خان اباد او قطغن ته انتقال کړي؛ ځمکه، هستوګنځای او خواړه ورته ورکړي.(سلطنت شاه امان الله و...، بخش اول، صفحات، ۲۷۴-۲۸۰-۲۸۲)

خو کوم پښتانه مهاجرین چې بغلان، کندز او بدخشان ولایتونو کې په خپلو ځمکو کې ژیار ویستلي وو، پاتې شول؛ هند ته ستانه نه شول، او اوس هم بدخشان، تخار او کندز کې د ډیورنډ کرښې هغې غاړې څخه راغلي پښتانه ژوند کوي.

د هندوستاني مهاجرینو پسې د **پار دریا**(فرا دریا) د مهاجرینو غته جوپه ۱۹۲۰ م کال کې افغانستان ته داخل شو. د افغانستان دولت د محدود امکاناتو باوجود هغوی ومنل او په مزار، میمنه، شبرغان، بدخشان، قطغن او بغلان کې هستوګنځایونه ورکړل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډاکټر زیرکیار پخپله مقاله کې چې د **ملیت، ملت، ملي ستم او خراسان** تر عنوان لاندې افغان انلاین جرمن پورټال کې خپره کړې، د **کي جي بي جاسوس واسلي متروخین** له قوله لیکلي:«په ۱۹۱۷ کې د لینن په مشرۍ، روسیه کې بلشویک/کمونیستي نظام د پخواني تزاري نظام ځای ونیوه. کله چې بلشویک/کمونیستي واکمني په مرکزي اسیا کې برلاسی شو، ګڼ شمیر- اووه نیم لکه(۷۵۰۰۰۰) تاجکان، ازبکان، ترکمنان او کرغیزیان افغانستان ته پناه ویوړه.»(وسیلي میتروخین، کې جي بي په افغانستان کې، واشنګټن ډي سي، ۲۰۰۲، تجدید ۲۰۰۹، په انګریزي ژبه، ۱۷ مخ.)

افغان څیړونکی، ژباړونکی او پیاوړی نظامي شخصیت نورالحق نبي زاده سلی، پخپله مقاله کې(**افغانستان ته له روسیې او چینايي ترکستان څخه راغلي کډول**) لیکي: په شلمه پیړۍ کې ۹۰۰ زره تنه روسي ترکستانیان او چینایان، افغانستان ته راغلل چې په هغو کې بلشویکي، جاپاني، جرمني او ترکستاني جاسوسان هم وو.

بناءً د شمال ناقلین یوازې پښتانه، هزاره ګان او بلوچان ندي چې د بغاوتونو له امله، د هندوکش جنوب څخه د هندوکش شمال ته امیر عبدالرحمن خان لخوا تبعید او په دولتي ځمکو کې میشت کړل شو. او وروسته حکومتونه د هغوی تعداد زیات کړل، نظامي متقاعدینو او بلند رتبه ملکي مامورینو ته د تقاعد معاش پر ځای د هیواد په شمال کې ځمکې ورکړل شوې، ترڅو د هیواد په ابادۍ او سمسورتیا کې برخه واخلي.

**د دوی څخه علاوه د شمال ناقلین ۷۰۰ څخه تر ۷۵۰ زره – ترکمنان، اوزبکان، قرغیزیان او تاجکان هم تشکیلوي، چې د بخارا تر اشغال وروسته د روسانو په واسطه ۱۹۲۰ سپټامبر کې افغانستان ته په تیښته مجبور شوي وو. ددغو تبنتیدلو اکثریت برخه د ازبکانو ترڅنګ هستوګنځایونه جوړ کړل، کوم چې له شپاړلسمې پیړۍ څخه د شیبانیانو تر استیلا(غلبه) پورې افغانستان ته راغلل او همدلته پاتې شول. خو تاجکان چې د ماوراءالنهر(پار دریا) تبنتیدلو سره او د ازبکانو، ترکمنانو او قرغیزیانو سره افغانستان ته داخل شول، ځینو یې ځانونه پنجشیر درې ته ورساوه او هلته میشت شول. د افغانستان دولت هم د محدود امکاناتو باوجود هغوی ته پناه ورکړه، ترڅو د کمونیزم خونړی افت څخه په امن پاتې شي. خو متاسفانه چې د بخارايي ناقلینو او مهاجرینو په صف کې د بلشویک دولت جاسوسان داخل شول، د نفاق، شقاق او سمت پرستۍ زړي وکرلي.**

ځوان لیکوال مصطفی عمرزی د رستم په شان په یوازې ځان د افغانستان تجزیه کیدونکو سره جنګیدله – افغانستان ته د بخارايي مهاجرینو راتګ او د هیواد په شمال کې قومي ترکیب رامنځته کیدو په غبرګون کې لیکلي: ددغو مهاجرتونو ریښه هغه مهال ته رسیږي، کله چې د افغانستان د هغه مهال دولت اندیښمن کیږي، داسې نه چې د افغانستان د شمال قومي ترکیب، په ځانګړې توګه شمال ختیځ، د افغانستان طبیعي او سیاسي تناقص شرایطو سره واقع شي. د اعلیحضرت شاه امان الله خان نظامنامې د تولنې د قانونمندۍ برخه کې ډیر مهم ګڼل کیږي. بناً د مختلفو مسایلو اړوند لسګونه نظامنامې لیکل کیږي، او نشریږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د قطغن پر لوري د شمال ناقلينو نظامنامه(۱۳۰۷ – قوس – ۹) (۱۹۲۸ م): يو لاربنوود و، ترڅو د هغو عوارضو مخنيوی وکړي کوم چې اټکل کيده وسلوال مهاجرين د شمالي سيمو امنيت ګواښوي. نو دولت مکلف دی چې ځايي خلک هغو سيمو ته واستوي، چيرته چې د دوی همتباره اوسيدل. خو ګڼ شمير مهاجرين او نوي راغلي ناقلين د سيمي د بې ثباتی سبب وګرځيدل. د حکومت اندیښنه بې ځايه نه وه. د لومړی سقوي ارتجاع د بلوا په پايله کې د منځنی اسيا ځينې تښتيدلي کسان، ډير ژر خپل نمک حرامي وښودله او د سقوي پيروانو په صف کې ودريدل. ابراهيم بيګ لقي، کابل ته له داخليدو مخکې د حبيب الله کلکاني په جرګه کې ونده اخلي، کوم کسان چې شمال کې ميشت شوي وو، خپل پلرنی ټاټوبی يې پرديو ته پريږدي، په سختو ورځو کې کوم افغانان چې په ټولنيز هرج او مرج کې ضعيف شوي وو، افغانستان ورته په فرهنګي، قومي، ژبنی برخه کې داسي يو فرصت ښکاره شو، چې کولی شي هلته کوربه شي.

ښاغلی عمرزی د استاد خليلي د يادښتونو له کتاب څخه جالبې ټکي نقل کړي دي:«عابد نظر مخدوم – مشهور په خليفه قزل آياق... او ملا آدينه... دغه دوه کسان، د حبيب الله خان د سلطنت په تحکيم کې ستر رول لوبولی. پر بخارا باندې د روسانو تر يرغل وروسته، خليفه قزل آياق د خپلې کورنی سلګونو غړو سره افغانستان ته راغی. شبرغان کې يې خانته خيمه ودروله. د غاليو سوداګري او اسونو روزني له لياري يې ژوند کاوه. تقريباً ۱۰۰۰۰ وسلوال سرتيري يې هميشه اماده باش به وو.» ابراهيم بيګ بخارايي(مشهور په لقي او باسمه چي) له سيد حسين سره وو. هغه څو ځلي له روسانو سره جګړه وکړه. د روسانو جنګي تکتيکونو سره بلد وو. ۵۰۰ بخارايي ملګري يې درلود. چې هر څه و، د داخلي مرتجعينو د لاسونو په لنډيدو، ځينې بخارايي اوباشان د ابراهيم بيګ لقي په شمول بيرته د امو هغې غاړې ته وتښتيدل، خو زرګونه نور همدلته پاتې شول.

ښاغلی عمرزی زياتوي:«د هغې پيښي او بخارايي تښتيدلو څخه کلونه وروسته چې کوم کسان دلته پاتې شول، نوي هيواد ته يې درناوی وکړ، زموږ قدرمن او شريف وطنوال شميرل کيږي. خو د خپل پلرني ټاټوبي څخه پخوانی ذهنيت او فکر چې د بحران له وجې پر افغانستان تحميل شو، له هر څه نه ډير دې هيواد ته زيانمن دی. په هر صورت د اماني حکومت او له هغې وروسته حکومتونو په زرګونو جريبو ځمکو باندې د ګڼ شمير ناقلينو وړيا مالکيت ته احترام کوي.

ښاغلی عمرزی د خپل مقالي پای کې ليکي:«زموږ د بيان او وضاحت هدف د مهاجرينو بيرته ستنيدل ندي، بلکې هغو کسانو ته ځواب دی، چې هياهو او بې ځايه بحثونه را پورته کوي. او هر ځلي يې هيريږي چې سل کاله وړاندې پلرونه او نيکونه يې افغانستان ته راغلي، نو ددې ځای نوم افغانستان وو، خلک يې افغان بلل کيده. د ډيرو مالوماتو لپاره دې «بخارای مفلوک»کتاب ته مراجعه شي. ناخلف پاتې شوني چې موږ پخپل کور کې د پرديو په مقابل سپکوي، ډيره جالبه ده.»(عمرزی:مخالفان تنها می مانند)

ډاکټر حسن شرق، د امير عبدالرحمن خان په امر شمال ته د پښتنو اجباري کډې په اړه ليکي:«**سمتيان چې څه وايي درست ندي. د هلمند له سوزنده او لامزرع دښتو څخه نيولی تر**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

**هرات او بادغيس پورې مغضوب شوي او شړل شوي خلک په اجباري توګه په شمالي ولايتونو کې په ازاده فضا او د ژوندو په ډېرو کمو وسايلو ميشت شول. خو له نيکمرغه په ټولو ځايونو کې او په ځانګړې توګه اوزبکانو او بومي تاجکانو د امراوو د تمې خلاف، شړل شوي خلک په غېږ کې ونيول او ښه راغلاست ووايو. هغوی هم په ارامه فضا کې کلونه کلونه د متو په زور او د ګوتو او لاسونو په تناکو شاړه او لامزرع ځمکې وداني او ښيرازې کړې، ترڅو د خپلو بومي ورونو ترڅنګ ژوند وکړي. هغوی د بومي خلکو سره وتړل شول، خپلوي يې سره وکړل. خو کله چې د ثور اوومي کړغېرنه پيښه رامنځته شوه، سمتيانو د ملت وزارت جوړ کړ، ترڅو افغانستان په شمال او جنوب حکومتونو وويشي او د پښتنو، ازبکانو، تاجکانو او هزاره ګانو ترمنځ د بدبينۍ تخم وکري»** (ډاکتر حسن شرق، تاسيس وتخريب اولين جمهوری افغانستان، دريم چاپ، ۳۱۲ مخ)

**له بدمرغه د پښتون ځپلو ذهنيت د ډيموکراسی په لسيزه کې او پر افغانستان د شوروي اتحاد له يرغل وروسته ژورې ريښې وکړې، او د پښتون ضد مسلح ډلو په زړه بوږنونکې قتلونو او تخريبونو لاس پورې کړ. د مولوي قره داستان او په فارياب کې د شوروي اتحاد د يرغل پر مهال د پښتنو نسل وژنه د انسان د بدن ويښته زيږه کوي!**

د شمال پښتنو پر وړاندې د لطيف پدرام قومي تصفيي سياست د جمعيت اسلامي او ملي جنبش قوماندانو لخوا د رشيد دوستم په واسطه اعمال شو؛ يو ځلي نه، بلکې دوه ځلې د هېواد په شمال کې پښتانه له داسې قومي کړغيړونو کړنو سره مخامخ کيږي: لومړی ځل په ۹۰ مه لسيزه کې د برهان الدين رباني د حکومت او په شمال کې د عبدالرشيد دوستم د اقتدار پر مهال د قومي تصفيي سياست په لاره واچول شوه، ترڅو پښتانه د شمالي ولايتونو څخه په اجباري توګه په وباسي او هر څوک چې ددې حکم په تعميل کې ځنډ کاوه، بې درنګه وژل کيده؛ ډيرې پښتونې کورنۍ د عبدالرشيد دوستم او جمعيت اسلامي قوماندانانو لخوا په بې رحمانه توګه ووژل شول، د غنمو خرمنونه او په ثمر رسيدلي محصولات يې سوزول کيده، ترڅو چې طالبانو ظهور وکړ، پښتانه او نور خلک د دوی له شر څخه وژغورل.

دويم ځلي، د طالبانو د حکومت تر سقوط وروسته B۵۲ امريکايي طيارو د فارياب، بلخ، کندوز، تخار، بدخشان، بغلان، سمنګان، بادغيس او د هرات پښتنو کورونو باندې د طالبانو سره د ژبې يوشان والي او همکارۍ په پلمه بمبارۍ وکړې او د شمال ائتلافي ځواکونو بيا د پښتنو کورونه، شتمني او د ښځو ناموسونه ولوټل.

د بي بي سي د راپور پر اساس، په ۲۰۰۲ م کال کې شاوخوا ۸۰ زره تنه د شمال پښتانه درحاليکې چې خپل ټوله شتمني يې له لاسه ورکړي وو، يوازې ځان او خپل اولادونه تر جلال آباد، هلمند او کندهار پورې ورسول، او په داخلي بې ځايه شوو کمپونو کې ميشت شول، حتا تر نن ورځې پورې هم بېرته خپلو سيمو ته ستانه شوي ندي، ځکه کورونه او ځمکې يې د شمال ائتلافي قوماندانانو لخوا غصب شوي او د محلي زورمندانو په نوم قباله شوي دي، د کرزي او غني حکومت د قانون د تطبيق او د حق حقدار ته سپارلو توانايي نلري.

د کرزي د حکومت پر مهال ۸۰ پښتون کورنۍ چې د رباني د حکومت پر مهال له تخار څخه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مجبور شوي و، چې خپل کورونه او ځمکې پرېږدي او پاکستان ته لاړ شي، بېرته تخار ته لاړل، خو د جمعیت یو تن قوماندان هغوی ته اجازه ورنکړ، چې له خپلو موټرونو څخه ښکته شي. دغه قوماندان چې تاتار نومېده، محلي دوکاندارانو او نانوایانو ته امر کړی و، چې پر مهاجرینو به ډوډۍ او خوراکي توکي نه پلوري، ګنې دوکانونه به یې وسوزول شي. هماغه وخت د راستانه شوو مهاجرینو په حق کې د ترسره شوي ظلم خبر په ټولیزو رسنیو کې خپور شو، دوه – درې اوونۍ وروسته د پارلمان یو هیئت تخار ته لاړ، خو حکومت د مظلومانو غږ وانه اورېد، هغوی مجبور شول بېرته پاکستان ته لاړ شي.

**لطیف پدرام د خپل ریاست جمهوري انتخاباتي کمپاین پر مهال د شمال ناقلینو ته ګواښ کړی و، چې پخپلو تذکرو کې د افغان او افغانستان د نوم له لیکلو څخه ډډه وکړي، ګنې قدرت ته د رسېدو په صورت کې د خراسان نوم به ځایناستی کړي، او هرڅوک چې افغاني تذکره ولري، له شمال څخه به وشړل شي.**

**پدرام د بهرنیو هېوادونو په ملاتړ د افغانستان د تجزیې خوبونه ګوري، خو دی باید پوه شي چې اوسپنیز امیر (امیرعبدالرحمن خان) دغه ټولنه داسې سره تړلې چې هیڅ ځواک نشي کولی دغه ساختار مات کړي، او افغانستان تجزیه کړي. پدرام او د پدرام لارویان به د افغانستان د تجزیې خوب ګور ته یوسي!**

۱۹/۵/۲۰۲۲


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ